# پاتې راتلل

## په افغانستان کې د مرستو اغيزمنتيا
## د ۲۰۰۸ کال د مارچ مياشت

**مؤلف:** ماټ والډمن، د پاليسي او مدافعې/ملاتړ مشاور، اکسفام انټرنيشنل، افغانستان

*د افغانانو د پاره د مرستو د انسجام اداره (اکبر) په افغانستان کې د کارکونکو ملي او بين المللي غير دولتي موسسو له 94 غړيو څخه جوړه شوې مخکښه اتحاديه ده. د افغانستان د فقر ګډه ازمېښتي ارزونه (APPPA) د اکبر له پلوه تر سره کيدونکې يوه داسې پروژه ده چې د مدني ټولنې د ګډون له لارې، د بې وزلو افغانانو اوازونه را ټول، ثبت، خپاره او ترې ملاتړ کوي تر څو د افغانستان په راتلونکې ملي پرمختيايي ستراتيژي، او په مجموع کې په ټوله مدني ټولنه کې ورته پاملرنه وشي. نوموړې پروسه د څېړنې او مدافعې/ملاتړ دواړه برخې لري.*

*دا د افغانستان د فقر د ګډې ازمېښتي ارزونې د مدافعې/ملاتړ د برخې په لړۍ کې د مرستو د اغيزمنتيا د پراخ سند لنډيز دی. د افغانستان د فقر د ګډې ازمېښتي ارزونې موخه دا ده چې په ملي او سکتوري پرمختيايې پلانونو او فعاليتونو کې د مدني ټولنې (د غير دولتي موسسو په ګډون) ونده اخستل پياوړي کړي.*

# ځغلنده کتنه

مخ په زیاتیدونکي نا امني په افغانستان کي پرمختګ په خطر کي اچوي. د دولت د لږو عایداتو له کبله په هیواد کي د عامه لګښتونو په سلو کي ۹۰ له بین المللي مرستو څخه لاس ته راځي او د دغو مرستو د لګولو څرنګوالی کابو دټولوافغانانو په ژوند او د بیاودانولو او پرمختیا په بهیر خورا ژوره اغیزه لري. د پرمختیا او سولي تر منځ اړیکي ته په پاملرني سره د مرستو اغیزمنتیا دهیواد په سولي او ثبات ژوره اغیزه لري. اوس لا هم مرستي کافي نه دي او په ځینو حالاتو کي بی ګټي او بی اغیزي دي. نو له دي کبله ښاي چي وخت له لاسه ورنکړل شي: تمویل کوونکي باید د مرستو د لا ښه والي او زیاتولو لپاره چټك ګامونه واخلي.

د بیاودانولو مرسته د نظامي لګښتونو د یوې وړې برخې په اندازه ده. له ۲۰۰۱ کال څخه را پدې خوا د امریکا حکومت په افغانستان کي د جګړي لپاره ۱۲۷ ملیارده ډالره ځانګړي کړي دي او اوس مهال امریکایي قواوي د ورځي د ۱۰۰ ملیونو ډالرو په شاوخوا لګښت لري چي د کال ۳۶ ملیارده ډالره اټکل شوی دي. له بلي خوا د ۲۰۰۱ کال څخه راپدې خوا د نړیوالي مرستي چي د ټولو تمویل کوونکو له خوا برابري شوي دي د ورځي ۷ ملیونه ډالره دي چي په هیڅ ډول کافي نه دي. د مرستو دا کمښت په مقایسوي توګه د سړي سر ارقامو کي جوت شوی دی. دبهرنیو دتداخل د دوو کالونو په ترځ کي افغانستان ته دسړي په سر ۵۷ ډالره، بوسنیا ته دسړي په سر ۶۷۹ ډالره او ختیز تیمور ته دسړي په سر ۲۳۳ ډالره مرسته ورکړل شوې ده.

له2001 کال څخه راپدې خوا د امنیت په اړوندو چارو لکه د افغان امنیتي قواوو په جوړښت باندي د ۲۵ ملیاردو ډالرو په شا اوخوا کي لګښت راغلی دی. تمویل کونکو د بیا ودانولو او پرمختګ د چارو لپاره د همدومره اندازي مرستو تعهد کړی دی. په داسي حال کي چي مخکښنو تمویل کونکو یوازي له نیمایي څخه لږ زیاته وعده پوره کړې ده. نو له دي کبله ۱۰ میلیارده ډالره کمښت چي د پوهني دکلنی بودجي دیرش برابره دی لیدل کیږي. تر اوسه یوازي ۱۵ ملیارده مرسته تأدیه شویده چي د هغي ۴۰٪ بیرته همدغو تمویل کونکو هیوادونو ته د سلاکارانو د معاشونو او شرکتونو دګټو په بڼه ستنه شویده.

په مجموع کي امریکا تر ټولو لوی تمویل کونکی هیواد دی چي له 2001 کال څخه راپدې خوا له افغانستان سره د دټولو مرستو دریمه برخه مرسته همدغه هیواد کوي. نور مهم تمویل کونکي هیوادونه عبارت دي له: جاپان، بریطانیا، اروپایي کمیسیون، نړیوال بانک، المان او کاناډا. د هالنډ، ناروې او سویډن نسبي مرستي هم د پام وړ دي. له بله پلوه د فرانسي او هسپاني مرستي ډیري لږ دي او له ۲۰۰۱ کال څخه راپدې خوا بې په ترتیب سره د ۸۰ او ۲۶ ملیونو ډالرو مرسته کړیده.

له دې سره سره چي یو شمیر تمویل کوونکو عمده پروژې تر لاس لاندي نیولي دي خو دافغانستان دحکومت د ارقامو له مخي د اسیا پرمختیایي بانک او هند د ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۰۸ کال پوري د ژمنه ورکړل شویو مرستو یواځي دریمه برخه تأدیه کړیده. په همدې موده کي د امریکا د 10.4 ملیاردو دالرو ژمنه ورکړل شویو مرستو څخه یوازې نیمایي مرسته تأدیه شویده. نړیوال بانک د 1.6 ملیاردو ډالرو له ژمني له نیمي څخه لږ څه زیاته مرسته کړیده. اروپایې کمیسیون او المان د خپلو ژمنو چي په ترتیب سره 1.7 او 1.2 ملیارده ډالر دي له جملي څخه یوازي دوه په دریمه برخه تأدیه کړیده. داسي انګېرل کیږي چي دغه پاته را تلنه تر یوې اندازې پورې داجرا په لار کي د ستونزمنو حالاتو، زیات اداري فساد او د جذبولو ظرفیت، او داچي دولت نشي کولای چي د تمویل کوونکو د مصارفو په هکله معلومات را ټول کړي، اړه لري. د پاته راتلني دیادوني اهمیت په دې کي دی چي دتمویل کوونکو زیاتیدونکو کوښښونو دستونزو دکمولو او یا وفق ورکولو اهمیت ته توجه را جلب کړي، دپروګرامونو په پلان کولو کې یې شامل کړي، او دافغان حکومت ته د معلوماتو ورکولو جریان لا ښه کړي.

د دې تر څنګ، یو شمیر تمویل کونکو د ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۱۱ کال پورې خپلي ژمني په سم ډول نه دي تر سره کړې. په مجموعي ډول تر ۲۰۱۱ کال پورې د ۳۹ ملیاردو ډالرو ژمني شوې وې، خو له دې جملي څخه تر اوسه یوازې په سلو کي تر ۴۰ کمې بې عملي شوې دي. د افغانستان د دولت د ارقامو له مخې هسپاني د۲۰۰۲- ۲۰۱۱-کال د ژمنو له ډلي څخه یوازې په سلو کي ۱۰ تر سره کړې دي، او امریکا او هند د خپلو ژمنو له جملي څخه چي په ترتیب سره 22.8 ملیارده او 940 ملیونه ډالره کیږي، یوازې په سلو کي ۲۲ ادا کړې دي. ترکیې، چین، د اسیا پرمختیایي بانک، نړیوال بانک او سعودي عربستان تر اوسه د خپلو ژمنو له په سلو کي د ۴۰ څخه کم تر سره کړې دي.

که څه هم له ۲۰۰۱ کال راپدې خوا ډیرې لاس ته راوړنې تر سره شته دي لکه: دموکراتیکې ادارې او وزارتونه جوړشوي دي، دروغتیا او معافیت په برخه کې دپام وړ ښه والی راغلی دی، لومړنیو زده کړو پراختیا موندلې ده، څرکونه او د ترانسپورت په برخه کې زیربنا جوړه شوې، اقتصادي وده منځ ته راغلې او په دولت کې دامنیت قواوې جوړې شوې دي. د مرستو د لاښه وېش نمونې شته د بېلګې په توګه دپوهنې په سکتور کې په ټولنو ولاړ دکلیوالي پرمختیا پروژې چې د ملي پیوستون د پروګرام برخه ده د افغانانو په ژوند کې یې د پام وړ بدلون را وړی.

سره له دې چې ډېر افغانان د سختو حالاتوسره مخامخ دیي او په میلیونونو افغانان په ډېره بېوزلۍ کې ژوند کوي. خو د مرستو ډیره برخه د سپاربښتنو په بنسټ ده او لومړیتوبونه د تمویل کوونکو په خوښه ټاکل کیږي بې له دې چې د افغانانو ربښتینو اړتیاؤ او غوښتنو ته پاملرنه وشي. ډیرې پروژې په دې موخه طرح کیږي چې چټکې او ښکاره پایلې ولرې نه دا چې د اوږد مهاله د فقر د کمولو او وړتیاوو د لوړولو په موخو باندې غور وشي. د مرستو څلورمه برخه د تخنیکي همکاریو کوم چې ددولت د ظرفیت دجوړولو لپاره ځانګړې شویده خو د دې زیاتره برخه ضایع کیږي تشکیلوي د تمویل کونکو له خوا ټاکل کیږي او لږ اغېز لري. د پروژو دجوړولو او ترسره کولو په وخت کې ډېر ځله دتوان دلوړولو، او دښځو وضعې او حقونو ته لږ پام کېږي او یا خو وروسته ورته فکر کېږي. زیاتره مرستې په کابل او نورو ښارې سیمو کې لګول کیږي په داسې حال کې چې د هیواد له څلورو څخه درې برخې وګړي په کلیوالو سیمو کې هستوګنه لري او مرستو ته خورا اړتیا لري. په کلي توګه ځینې سکتورونو لکه کرنې ته لږ منابع ورکول کېږي.

په داسې حال کې چې بیشکه دمنابعو کمښت لیدل کیږي، تمویل کونکې د افغانستان د تړون په هغو ژمنو کې پاتې راغلې دي چې تر مخه بې باید له افغاني بشري قوې او وسایلو څخه کار اخستی وای. له نیمایي څخه زیاته مرسته په دې پورې تړلې ده چې باید تمویل کونکې دې دخپلو هیوادونو څخه وسایل او خدمات لاس ته راوړي.

غیر دولتي موسسود کلیوالې پرمختیا په ملاتړ کې ارزښتناک رول لوبوي او نورو ته په پرتلې اقتصادي مؤثریت هم لري. ځینې تمویل کونکو افغاني او بین المللي غیر دولتي موسوسو ته خپلې مرستې کمې کړې دي چې په دې ډول د نوموړو موسسو د خدماتو د وړاندې کولو په ځانګړي ډول په کلیوالو سیمو کې او د ځایي دولتي ارګانونو او ټولنو د دظرفیتونو اوچتول محدود کړي دي

د مرستو د جغرافیایي ویشلو بڼه له ډیر توپیر څخه ډکه ده. دا کار ډیر عوامل لري خو یوه خبره دا هم ده چې مرستې په هغو ځایونو کې کارول کیږي چیرې چې بین المللي نظامي او سیاسي اهداف په پام کې نیول شوي وي. ځینې تمویل کونکې په غیر متعادل ډول د مرستو زیاته برخه د هیواد جنوب لویدیځو سیمو ته لیږي چیرې چې بغاوت اوج ته رسیدلی دی. هلمند په یواځې ډول د متحده ایالاتو دبین المللي مرستو دادارې (USAID) د نړیوالو مرستو پنځمه برخه لاس ته راوړنکې سیمه ده. دا غیر متعادله ویشل د دولت او تمویل کونکو په ګډو هڅو کې هم تر سترګو کیږي. د 2007 او2008 کالونو لپاره د ناارامو ولایتونو لکه نیمروز، هلمند، زابل، کندهار او ارزګان کې د سړي سر د مرستې اندازه 200 امریکایي ډالره ده په داسې حال کې چې زیاتره نور ولایتونه د دغې اندازې له نیماېي څخه کمه تر لاسه کوي او ځینې ولایتونه لکه سرپل او تخار د نوموړې اندازې یوازې دریمه برخه تر لاسه کوي.

د فقر او نا ارامي تر منځ د اړیکو موجودیت، د مرستو د غیر متعادلې وېشلو څخه را منځ ته شوې نا خوښي او په ارامو سیمو کې د مرستو نا سمې برخې کارول ټول داسې عوامل دي چې له خطر څخه ډک او نا ارامي ته لاره هواروي.

د ولایتي بیا رغولو ټیمونه د پراخو پرمختیایي کارونو په کولو سره چې بیلابیل کیفیت او اغیزې لري، د خپلو کارونو له دایرې څخه ډیر ها خوا ته اوښتي دي. که څه هم دا په مکمله توګه صحیح نه ده چې په ځینو ډېرو ناامنو سیموکې د هغو منابعو کوم چې کیدلای شوای په ملکي پرمختیایي فعالیتونو کې کارول شوې وای په بل خوا سوق کول ضروري دي دغو ټیمونو ډېر وخت د ځایي او ملي دولتي ارګانونو او مدني پرمختیایي پروسو د منځ ته راتلو لاره بنده کړې ده. د ولایتي بیا رغولو ټیمونو کارونو د نظامي او مرستې رسونکو ارګانونو تر منځ سرحد خړپړ کړی دی. او همدارنګه یې د مرستندویو ادارو بې پرېتوب تر تر سوال لاندې راوړی چې دمرستو رسوونکو کارکوونکو دپاره یې خطر زیات کړی او په دې ډول بشري فعالیتونه او سیمو ته لاس رسي کمه شوېده.

د مرستو له دریو څخه دوه برخې د دولت له شمولیت څخه پرته سر ته رسیږي چې په دې ډول د مؤثرو دولتي ادارو په ځانګړي ډول په ولایتي سطحو کې را منځ ته کیدل اغیزمن کیږي. د دې ځینې عوامل دا دي چې د بودجې د کارولو کافي وړتیا وجود نلري او د دې تر څنګ اداره کول کمزورې دي، په حکومت کې بشرې ظرفیت کم دی او په پراخه توګه اداري فساد وجود لري – کومو ته چې باید تمویل کونکو او افغان دولت له وړاندې دشپږو کالونو په ترڅ کې ورته ډېره پاملرنه کړې وای. دخوا شینۍ وړ ده چې د اداري فساد په هکله سیاسي عزم نشته. خو اوس د دولت وړتیا تر ډېرې اندازې لوړیږي چې بیلګې بې د مالېې وزارت، د پوهنې وزارت او په مالي عامه اداره کې ښه والی دي.

تمویل کونکي تر خپل منځ او له دولت سره په همغږۍ کې پاتې راغلي دي. داقتصادي همکاریو د پرمختیا د سازمان له قوله په ۲۰۰۵ کال کې د اسیا د پرمختیایي بانک، اروپایي کمیسیون، المان، جاپان او بریطانیې تر منځ د تخنیکي مرستو په وړاندې کولو کې د پروګرامونو په هکله چې د دولت ستراتیژیکانې پکې په پام کې نیول شوې وای ډېره لږ او یا هیڅ همغږي نه وه. اود تمویل کونکو د اړتیاوو د ارزونې د کار یوازې دریمه برخه په ګډه تر سره شوې وه. تر ډېره پورې د تمویل کوونکو دنه همغږۍ او اړیکو له امله دولت وایي چې له ۲۰۰۱ کال څخه راپدې خوا د مرستو له دریمې برخې څخه چې ۵ ملیارده ډالره کیږي دولت نه دی خبر چې په څه ډول لګول شوې دي. د مرستو ډېره برخه د دولت د ملي او ولایتي پلانونو په اساس نه وې او یوازې د ټولو مرستو نیمایي برخه د دولت په موافقې سره سر ته رسول کیږي.

تمویل کونکي د افغانستان د ترون په هغو ژمنو کې پاتې راغلي دي چې مالیې ورکونکو ته باید د پیسو په بدل کې مناسبه معاوضه ورکړل شي. د مرستو ډېره برخه د عمده او ثانوي قرار داد کونکو په شرکتې ګټو کې لګول کیږي چې په یوه قرارداد کې دا اندازه په سلو کې تر ۵۰ پورې رسیږي. په تدارک او داوطلبي کې ترټولو لږ شفافیت د سالم رقابت او مؤثریت څخه مخنیوی کوي. د مرستو ډېره برخه د خارجې کارپوهانو کوم چې په مشورتي او قراردادي شرکتونو کې کار کوي لوړ معاشونه او نورې ضمیمې او داسې نور مصرفونه-چې هر یو یې په کال کې د ۲۵۰۰۰۰-۵۰۰۰۰۰ دالرو پورې مصرف لري بیرته جذبوي او دا مصارف داوسني امنیت وضعیت دخرابېدو له امله نور هم زیاتیږي. همدارنګه د تمویل کونکو بیورکراسي، مؤثریت نور هم کمزوری کوي.

د تمویل کونکو شفافیت کمزوری دی او د هغوی د ذومه وارۍ لپاره لږ میکانیزمونه شته. د افغانستان په ترون کې د افغان حکومت د پاره ۷۷ معیارونه شته خو د تمویل کوونکو لپاره هیڅ نشته. تمویل کوونکي لږ مستقله ارزونه لري افغان دولت ته په رپوټ ورکولو کې ښه والی راغلی دی خو کافي نه دی او د پورته څخه د پروژو تر مرسته اخیستونکو پورې ښکته ذمه واري محدوده او یا خو نشته.

## نتیجې او سپاربښتنې

افغانستان ته د مرستو اغیزمنتیا تر ډېرې اندازې پورې په ټولنیز، اقتصادي، قانوني، امنیتي او سیاسي چاپیریال پورې اړه لري. په دې اساس باید په بیلابیلو اړخونو کې اصلاحات راوړل شي تر څو د مرستو اغیزمنتیا پیاوړې شي. مرستو د افغانانو په ژوند کې خورا ژور بدلونونه راوستلي دي خو ځینې کمزورتیاو د فقر د کمولو څخه مخنیوی کړی دی نو په دې اساس د افغانستان دولت او تمویل کونکي باید لاندې ټکي په چټکۍ سره په پام کې ونیسي:

**د مرستو حجم**: افغانستان ته د مرستو د اغیزمنتیا د زیاتولو تر څنګ باید تمویل کونکي د مرستو اندازه هم زیاته کړي کومه چې د نظامي مرستو په پرتله یوه وړه برخه تشکیلوي. تمویل کونکي باید افغان دولت او با کفایته غیر دولتي موسسو ته زیاته مرسته ورکړي، خپلې ژمنې سر ته ورسوي او د ډیرو کلونو تعهد ولري. د دې لپاره چې په مرستو باندې د خلکو تکیه کم کړل شي، تمویل کونکي باید د ځایي منابعو کارونه پیاوړې کړي.

**د مرستو وېشل**: پکار ده چې د افغانستان د ولایتونو د بیاودانولو، پرمختیا او بشري اړتیاوو ژوره ارزونه تر سره شي او په همدې ډول باید دولت او تمویل کونکي مرستې د اړتیا په بنسټ تنظیم کړي. څنګه چې امنیت ښشکه دمرستو د وېشلو د لګښت اندازه زیاتوي نو لازمه ده تر څو د عادلانه وېش څخه ډاډ تر لاسه شي او هغو سیمو ته چې بشري او پرمختیایي مرستو ته زیاته اړتیا لري مرستې ورسیږي.

**د مرستو کیفیت**: تمویل کونکي باید ډاډ تر لاسه کړي چې د دوئ د مرستو اساسي موخه د فقر کمول دي او دا چې مرستې د اړتیا او غوښتنو په اساس دي، د افغانانو اړتیاوو ته ځواب وایي، داخلي وړتیا لوړوي او افغان دولت او افغانانو ته حساب ورکړي. هغو پروژو ته باید زیاته پاملرنه وشي چې د کلیوالي سیمو د خلکو په ګټه وي او دپرمختیایي پلانونو د جوړښت او پلي کولو په وخت کې دښځې او نر مساوات د بنیاد څخه په پام کې ونیسي. هر تمویل کونکی باید د ارزولو کلنۍ پروسه ولري تر څو خپلې لاس ته راړنې او د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژي سره همغږي وارزوي. دافغانستان دملي پرمختګ نوې ستراتیژي او نور د تمویل کوونکو او دولت پر مختیایي پروګرامونه باید د بېوزلۍ دراکمولو د عضمت او نسبي اهمیت په پام کې نیولو سره لومړیتوبونه ترتیب او تنظیم کړي.

**د مرستو د اغیزمنتیا شاخصونه**: تمویل کونکي او افغان دولت باید په داسي شاخصونو باندې سره توافق ته ورسیږي چې تر مخې یې د مرستو اغیزمنتیا، موخې، اغیزې، مؤثریت، سموالی، دوام، ذمه واري، افغاني مالکیت او د افغاني منابعو کارونه و ارزول شي.

**کنترول اوذمه واري**: د مرستو د اغیزمنتیا یو ملي خپلواک کمیسیون باید را منځ ته شي تر څو د مرستو مراقبت وکړي، نواقص کشف کړي او سپارښتني وکړي. کمیسیون کولای شي چې د هر یو تمویل کوونکي لپاره درپوټ ورکولو یو کارت واچوي تر څو پیشنهاد شویو اهدافو ته درسېدلو په خاطر لاس ته راوړني پکښې درج کړي. داسي تګلارې باید غوره شي چې هیوادوالو ته د پورته څخه کښته حساب ورکړل شي. تمویل کونکي باید د مدني ټولني موسوسو ته مالي منابع برابر کړي ترڅو هغوئ وکولای شي چې د مرستو او بودجو د جریان څخه مراقبت وکړي او د پایېدونکي څارنې له لارې اغیزمنتیا تضمین شي..

**شفافیت**: تمویل کونکي باید په ښکاره د خپلو مرستو د جریان په هکله معلومات ورکړي. د افغانستان د تمویل کونکو د مرستو د معلوماتو بانك باید بدلون و مومي او تازه شي او د مرستو دمعلوماتو د لاس ته راوړلو په خاطر د عامو خلکو لاس ورته ورسیږي.

**مالکیت او اداره**: د دې لپاره چې د پرمختیایي پروسو په اړه د افغانانو مالکیت نور هم پیاوړی شي، تمویل کونکي باید د مرستي اندازه ددولتي سکتور سره او د پیسو اندازه د مرکزي بودجي له لارې خصوصاً د پرمختیایي بودجي سره نوره هم زیاته کړي د همدې کار لپاره باید د افغانستان دولت لاندې ګامونه واخلي:

- د دولت او په ځانګړې ډول د وزارتونو د بودجي د کارولو وړتیا باید پیاوړې کړي.
- مالي اداره او کنترول باید غښتلي شي.
- د عامه خدماتو اصلاحات باید تر سره شي په ځانګړې ډول په ملکي خدماتو کې.
- د دولت د اداري فساد ضد تګلارې باید په کلکه سره عملي شي؛ شفافیت باید نور هم غښتلی شي؛ څارنه او حسابي تفتیش باید پیاړوې شي؛ او د دولت پروسي او تګلارې باید سمي شي.
- په محلي سطحو کې باید اصلاحات راوستل شي، وزارتونه باید غیر متمرکز شي؛ په ځایي سطحو کې باید اداري او سیستمي وړتیاوې پیاوړې شي؛ او د پرمختیایي فعالیتونو دطرحې، پلي کولو، لوری ورکولو او کنترول په برخه کې دې د ټولنو او مدني ټولني ونډه باید پراخه شي.

**همغږي او همکاري**: تمویل کونکي دې باید له موجودو میکانیزمونو څخه کار واخلي تر څو د دولت او تمویل کونکو تر منځ همغږي لا زیاته شي. د همغږي او مراقبت ګډ بورد او د ملګرو ملتونو بشري او مالي منابع دې سره شریك کړل شي. تمویل کونکي باید په منظم ډول دولت ته د مرستو د جریان په اړه پوره معلومات ورکړي او باید ډاډ تر لاسه کړي چې نوموړې مرستي د دولت له لومړیتوبونو او په ځانګړې ډول له ملي پرمختیایي ستراتیژي سره سمون لري.

تمویل کونکي باید د ځینو میکانیزمونو له لارې لکه د افغانستان د بیاودانولو صندوق د سکتوري پروګرامونو ملاتړ ډیر زیات کړي او باید چټک ګامونه واخلي تر څو د پاریس د اعلامي موخه تر لاسه کړي کومه چې د سکتوري پروګرامونو له لارې په سلو کې د 66 څخه زیاتو مرستو د تر سره کولو غوښتنه کوي. تمویل کونکي باید ډاډ تر لاسه کړي چې د ګډې ارزوني کارونه باید د یو په دریمي برخې څخه دوه په دریمي برخې ته زیات شي او د دې تر څنګ باید د خپلو پروګرامونو له نیمایي څخه زیاته برخه له نورو سره په ګډه سرته ورسوي.

**کړنلارې:** تمویل کونکي باید دپروژو د مدیریت په خاطر بوروکراتیکي پروسي او کړنلارې ساده او همغږې کړي. ددې مقصد لپاره دوی باید له دولت او دغیر دولتي موسسو د استازي سره ګډ کاري ګروپ جوړ کړي تر څو په هغو لارو چارو غور وکړي.

**تخنیکي مرستي**: تمویل کونکي باید ډاډ تر لاسه کړي چې تخنیکي مرستي اقتصادي مؤثریت ولري، د اړتیا په اساس وي، له نورو سره په همغږي سر ته ورسیږي، له ملي لومړیتوبونو سره سمون ولري او د ځایي وړتیاوو د لوړولو موخه ولري. تمویل کونکي باید ګډې مرستې په پام کې ونیسي تر څو ځانګړو وزارتونو ته د تخنیکي مرستوپه ورکولو باندې څارنه وکړي.

**قراردادیان:** تمویل کونکي باید یوازې له هغو قراردادیانو سره معامله وکړي چې د موثریت سابقه ولري او د څو پوړیزو قراردادونو څخه باید ډډه وکړي. تمویل کونکي باید د قرارداد ورکولو په ګډو اصولو او کنټرولرو بانديې سره تفاهم ته ورسیږي.

**ولایتي د بیارغولو ټیمونه** باید د خپلو مرستو کیفیت او اغیزمنتیا پیاوړې کړي، ډاډ دې تر لاسه کړي چې نوموړې مرستې د دولت او ځایي لومړیتوبونو په اساس دي او له دولتي ادارو سره باید بشپړه همغږي ولري. دغه د بیارغولو ټیمونه باید په خپل کاري چوکاټ کې د ننه کار وکړي او د یو خوندي او امن لرونکي چاپیریال د رامنځ ته کولو لپاره باید هڅې وکړي. د هغوئ د مؤقتي حیثیت په پام کې نیولو سره، ولایتي د بیارغولو ټیمونه د باید په هغو سیمو کې چې نسبي امنیت ولري وتړل شي. د تمویل کونکو مرستي باید د ولایتي بیارغولو د ټیمونو په ځاي د ملي او ولایتي دولتي ارګانونو له لارې تر سره شي لکه د ملي پیوستون پروګرام چې خپلې مرستې د ټولنو له لارې د کلیوالي پرمختیا لپاره سر ته رسوي.

**افغانستان ته د مرستي په هکله حقایق**

- د۱۰میلیاردو دالرو کمښت چې د پو هني په برخه کې دکلنی ملي بودجې دیرش برابره ده لیدل کېږي. له 2001 کال څخه راپدیخوا تمویل کونکو ژمنه کړې وه چې 25 ملیارده ډالره مرسته وکړي چې له دې جملې څخه یوازې 15 ملیارده ډالره مرسته تر سره شویده.
- د مجموعي مرستو په سلو کې 40 چې د۲۰۰۱ کال را په دې خوا د ۶ میلیاردو په شا او خوا کې کېږي بیرته تمویل کونکو هیوادنو ته د شرکتي ګټو او معاشونو په بڼه ستنیږي.
- تر ډېرې اندازې د همغږي اړیکو د نشتوالي له امله د افغانستان دولت په دې نه دی خبر چې د ټولو مرستو دریمه برخه څنګه کارول شویده – چې تقریباً 5 ملیارده ډالره کیږي.
- امریکایي قواوې په افغانستان کې د ورځې100 ملیونه ډالره لګښت لري په داسې حال کې چې له 2001 کال څخه راپدېخوا د مرستو د لګښت ورځنی اندازه 7 ملیونه ډالره ده.
- د مرستو نیمايي اندازه په دې پورې تړلې ده چې باید وسایل او خدمات د تمویل کونکو له هیوادونو څخه تر لاسه شي.
- د مرستو دوه پر دري برخه د افغانستان د دولت د شمولیت پرته لګول کیږي.
- د اقتصادي همکاري او پرمختیا د سازمان د راپور له مخې، له په سلو کې 40 څخه لږ تخنیکي همکاري د دولت سره په همغږیتوب سرته رسیږي او تمویل کونکي د تجزیې او تحلیل د کارونو په یواځې دریمه برخه موارډو کې ګډ کار کوي.
- د بیاودانولو د کارونو دبین المللي او افغان قراردادیانو د نفعي اندازه په سلو کې 20 ده او په ځینو موارډو کې په سلو کې 50 ته رسیږي.
- د ډېرو بین المللي کارپوهانو کوم چې په شخصي مشورتي شرکتونو کې کار کوي د کلني لګښت اندازه 250000 امریکایي ډالره ده او ځیني یې تر نیم میلیون امریکایي ډالرو پورې لګښت لري.